# د ټاکنود پایلو تصدیق کړنلاره

دغه کړنلار د افغانستان د ټاکنو د قانون د( ۶۶) مادې پر بنسټ د ورکړل شویو واکونو په پام کې نیولو سره د ټاکنو د پایلو په تصدیق پورې د اړوندو چارو د تنظیم په موخه د ټاکنو دخپلواک کمیسیون له خوا تصویب شوې ده.

## نومونې( اصطلاحګانې)

**لومړی ماده :**

دغه اصطلاحګانې په دې کړنلارکې لاندې مفاهیم افاده کوي.

1. کمیسیون : د ټاکنو خپلواک کمیسیون چې د افغانستان د اساسي قانون د ( ۱۵۶) مادې پر بنسټ جوړشوی دی.
2. د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون : د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون چې د ټاکنو د قانون د (۶۱) مادې پربنسټ جوړ شوی دی.
3. . سیاسي ګوند : د عدلیې په وزارت کې راجستر شوی سیاسي ګوند.
٤. . کاندید : خپلواک کاندید یا په سیاسي ګوند پورې اړوند.
٥. . څارونکی : هغه حقیقي شخص دی چې د سیاسي ګوند یا کاندید په استازیتوب په ټاکنو کې د څاروونکي په توګه برخه اخلي او د کمیسیون له خوا پیژند پاڼه ترلاسه کوي .
٦. کتوونکی : هغه حقیقي شخص دی چې پر ملي یا نړیوالو ټاکنو باندې د کتوونکو بنسټونو له لورې د ټاکنو پر بهیر باندې د کتنې په موخه ورپیژندل کیږي او د کمیسیون له خوا پیژند پاڼه ترلاسه کوي.
٧. د رسنیی استازی : هغه حقیقي شخص دی چې د اعتبارلرونکو ملي او نړیوالو ډله ییزو رسنیو له خوا د ټاکنو له بهیر څخه درپوټ برابرولو په موخه معرفي کیږي .
٨. د شمیرنې محل: د رایو ورکولو هغه سیمه چې د رأیو ورکولو د بهیر له پای ته رسید واو اړوندوپراوونو ورو سته په کې رایې شمیرل کیږي

9. د رأیو شمیرنه: د رأیو شمیرنو په سیمو کې درأیو ورکوونکیو د رأیو شمیرل.
10. د پایلو د راټولو مرکز: په کابل کې د ټاکنود خپلواک کمیسیون له خوا هغه ټاکل شوی مرکز دی چې په کی د رایو شمیرلو د اړوندو سیمو پایلې جمع بندی او اعلا نیږي.
۱۱ .وروستی(نهایي) پایلې : هغه پایلې دي چې دټاکنیزوشکایتونوکمېسیون له خوا دټاکنو په پایلو پورې د اړوندو ټولو شکایتونو او اعتراضونو له څیړلووروسته ، د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا تصدیق او خپریږي.

## <u>عملي سا حه</u>

**دویمه ماده:**

د غه کړنلار په لاندینیو ټاکنو کې د رأیو په اعلان اوتصدیق پورې اړوندې چارې تنظیموي :

١. د جمهوري ریاست ټاکنې .
٢. د ولسي جرګې ټاکنې
٣. د ولایتي شور اګانو ټاکنې
٤. د و لسوالیو دشوراګانو ټاکنې.

## <u>د رأیو شمیرنو پایلې</u>

**دريمه ماده:**

1. درأيو شميرنو پايلي دشميرنی دمحلونڅخه دټاکنو دخپلواک کميسيون ولايتی دفترونوته او بيا له هغه ځايه دپايلو راټولولو مرکز ته په کابل کي ، درأيو شميرنی دکړنلاري سره سم ليږل کيږي .
2. دولايت د شميرنې پايلې په موضوع پورې د اړوندو شکايتونو او اعتراضونو له رپوټ سره يو ځاې د کميسيون مرکزي دفتر ته ليږدول کيږي .
3. (د جمهوري رياست له ټاکنوپرته) د ټاکنو پايلې د ټولو شکايتونو او اعتراضونو له څيړنې اودټاکنيزوشکايتونوکمېسيون دتاييد وروسته اويا د هغه شکايت او اعتراض د نشتوالي په اړه چې وکړاې شي د ټاکنو په پايلو اغېزه وکړي د کميسيون له تصويب وروسته د اړوند ولايت په کچه او په کابل کې د کميسيون د مرکزي دفتر له خوا اعلانيږي .
4. د جمهوري رياست بشپړې پايلې ددې مادې په دريمه بند کې د اټکل شويو شرايطو له تطبيق وروسته په رسمي ډول دکمېسيون له خوا په کابل کې اعلانيږي .

## د کميسيون له خوا د پايلو تصد يق

**څلورمه ماده:**

1. د کميسيون دارالانشا د رايو د شميرنې پايلې او په هغه پورې د اړوندو اعتراضونو او شکايتونو په باب له مفصل رپوټ سره يو ځاې هره ورځ کميسينون ته وړاندې کوي.
2. د ټاکنو د پايلو په تصديق باندې د کميسيون په غونډو کې خبرې کيږي . د پايلو په تصديق کې دشکايتونو کميسيون په پايلو پو رې اړوندو شکايتونو او اعتراضونو باندې کتنه کوي .

## د پايلو اعلان

**پنځمه ماده:**

د جمهوري رياست د ټاکنو پايلې يوازې په کابل کې د کميسيون د مرکزي دفتر له خوا خپريږي . په دې کړنلار کې د نورو اټکل شويو ټاکنو پايلې د اړوند ولايت په کچه او په کابل کې د کميسيون د مرکزي د فتر له تصويب وروسته خپريږي.

## د لومړنيوپايلو په اړه اعتراضونه او شکايتونه

**شپږمه ماده:**

1. د رأيي ورکونې په شرايطو ټول برابر اتباع څارونکي اوکانديدان کولاې شي دمقدماتی پايلو په اړه خپل شکايتونه دټآکنو دقانون اويا دهغو اسنادو دنقض په صورت کې چې دکميسيون له خوا تصويب شوي دي ، دټآکنيزو شکايتونو کميسيون اوياکمېسيون ته وړاندې کړي.
2. د مقدماتی پايلو په اړه ټول شکايتونه بايد د پايلو د اعلان څخه وروسته ،په ۷۲ساعتونو کې دننه دټا کنيزو شکايتونو کميسيون ته وړندې کړی. نوموړی شکايت دټا کنيزو شکايتونو دکميسيون له خوا ددوی دداخلي کړنلارو سره سم دغور لاندې نيول کيږي.

## منتخبو کانديدانو ته د تصديق ليکونو اطلاع او صادريدل

**اوومه ماده:**

د ټاکنو د بشپړو پايلو له اعلام وروسته کميسيون د ټاکنو د پايلو تصديق ليکونه برياليو کانديدانو ته برابر او د هغوې په واک کې يې ورکوي. د تصديق ليک کاپي د ټاکنو دپايلو په اړوند له رسمي مکتوب سره يو ځاې اړوندو ارګانونوته ليږدول کيږي.

## انفاذ ( نافذيدل)

**اتمه ماده:**

دغه کړنلاردتصو يب له نېټي وروسته نافذه او خپريږ ي.